درنو دوستانو!
سوکاله ژوند سوله او آزادی دانسانانو لرغونی او همیشنۍ غوښتنی پاتی شوی .پدی لاره کی بې بی شمېره ربړی او زحمتونه ګاللی.اوددغو موخو په لاره کی بې ډېری قربانی ورکړی دی. انسانی ژوند دتاریخ په اوږ دو کی دوژونکواوغم لړلو پیښو او کړاونو ښکار شوی خو انسان دژوند به ټولو پیچومو کی دغو لویو موخو ته درسیدو په لاره کی خپله لویه انسانی غوښتنه له پامه نده غورځولی.دحق اوباطل تر مینځ په مبارزه کی بې ښه ستایلی حق بې دروند بللی خوشالتیاوی بې نمانځلی ظلم تور تم جهالت او بدیو په وړاندی ډال شوی .ټولی اړیکی او مناسبتونه چی انسان یی لوړ اوویاړلی ګڼی بر خیر اونیکۍ ولاړ دی . سوله او آزادی بډایی او ټولیز خیر ګڼی.په کوم مهالپېر کی چی مونږ ژوند کوودسولی غوښتنه په ټولیزه او عمومی داعېې او دبشری ټولنی به ګډه غوښتنه بدله شوی ده..بی له شکه سوله دجګړی اوزورزیاتی په وړاندی دویښی او آزدېپاله ټولنی دضمیر غږ دی .خو دسولی مانا لدی لویه ده .په سوله کی دعدالت،آزادی،سوکالۍ مادی معنوی امنیت لوړو اوسپېڅلو لاسبریاو اوا رزښتونو ته لاسرسۍ اند ووائد اومفاهیم پراته دی. پایله داچی سوله دجګړی او دهغی دلاملونو اوزمینوبه وړاندی بریالېتوب،بیوزلی اوناپو هی باندی بریااو دغه راز انسانیت سره لویه مینه اودژوند درناوی دی.

د سولی لپاره د افغانی مدنی ټولنی بنسټونو شبکه د میدیوتیک افغانستان (Mediothek Afghanistan) تر مشری لاندی د تیرو کالو په شان پام کی لری چی د روان کال دسولی نړیواله ورځ دنړېوالی کورنی دغه لویه غوښتنه اودستور په خپل دردمن جګړی ځپلی هېواد کی چی ددریو لسیزودورانیو او جګړو قربانی شوی دسولی او آزادی دشهیدانو دقربانیو ددرناوی او ګډانسانی اصل ته دژمنتیادلوړی په خاطرونمانځی.لدی امله تاسی چی ددغی ټولنی او داعېې لارویان یاست هیله او غوښتنه کووچی دهېواد او بشریت په وړاندی دخپلی دندی برځای کولودسولی او دوستی ټینګولولپاره ددغی نېکمرغه ورځی په نمانځنه کی عملی ګډون وکړی په خپل مادی او معنوی ونډی اداکولوسره اوهومره وس او توان چی ستاسو په مټ کی دی پدی شریفانه کار کی زمونږ ملتیا وکړی او ددغی ورځی درناوی لا نور هم پرتمین کړی.

سوله حق دی دسولی ساتنه وکړی سوله بریالی ده.

**د سولی لپاره د افغانی مدنی ټولنی بنسټونو شبکه**

**پته: ( میدیوتیك افغانستان) د كابل ټولنیز مركز**
**كور۱۲۳ د مدینه بازار تر څنگ قلعه فتح الله خان كابل افغانستان**
**گرځنده شمیره:**
**۰۷۰۰۲۰۳۸۴۳**
**۰۷۰۰۲۸۴۴۹۷**
بریښنا لیك: cckabul@mediothek.org.af